مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند
۲۰۲۳/۰۳/۲۸

«بوډۍ تال»

(د لنډیو نوې ټولګه)

دریمه او وروستۍ برخه

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

دوه سوه دویمه برخه

محمدالله همیم د ځینو نورو فرهنګي کارونو ترڅنګ شاعري او ژباړې هم کړې دي. زه يې دلته د کلام دوې بېلګې رااخلم او یوه يې هم د ژباړې بېلګه د نمونې په ډول یادوم.

د ښاغلي محمدالله همیم شاعري کړېده او د کلام بېلګې يې په همدې نامه (محمدالله همیم) خپرې شوېدي، خو د ۲۰۲۳ کال د مارچ په شپاړسمه نېټه مې د ده په فیسبوکپاڼه کې ولوستل چې دی به په بل نامه (همیم نیهام) خپل شعرونه خپروي، د دې تصمیم په باب د ده په پاڼه کې دا متن خپور شوی دی:

«دې تصمیم لږ وخت ونیوه.
حتی کهٔ کالونه وخت يې هم اخیسته غوارم نور پهٔ شاعرانه کړی کې همیم نیهام شم. زهٔ بهٔ نوې شاعري پهٔ نیهام وکړم، او زړه بهٔ هم واړوم.
دا د ډېرو مشرانو شاعرانو هیله وه چې شاعري مې پهٔ یو بدل نوم خپره شي، لهٔ ټولو مننه چې راته ویلي يې دي».

د ښاغلي همیم د کلام بېلګې په ګڼو ځایونو کې خپرې شوې دي، دا لاندې بېلګه يې ما له یوه ویډیو کلپ څخه رااېستلې ده:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په څېر و لولئ

نیت مې دی ژوند ته د پای ټکی کېږدم
نیت مې دی لرې له خپل ځانه لاړ شم
په چاړه خپل رګونه غوڅ کړمه
نیت مې دی لرې له جهانه لاړ شم
فون کې مې ټولې شمارې ډیلیت کړم
تمام لیکونه باید وسوځوم
او ټول عکسونه د هغې ډیلیت کړم
نیت مې دی ستا ټول پیغامونه پاک کړم
په پرفایل توره پرده راکش کړم
له ژوند سره مې حسابونه پاک کړم
خو له مرګ مخکې میکدې ته ځمه
هلته باید د ساقي پور ادا کړم
له هغې وروسته هدیرې ته ځمه

د ښاغلي محمدالله همیم لاندې غزل مې د ده له فیسبوکپاڼې څخه راکاپي کړی دی:

غزل

زما په زړهٔ ځومره ډېر زور ګرځوي
چې هر غروب سترګو کې اور ګرځوي

تهٔ ځومره ډېره وخت بدله کړي چې
لېچې خالي پهٔ زړهٔ کې شور ګرځوي

چا پښتانهٔ ته توپک ورکړو وې یې:
واخله بچیه دا پهٔ سپور ګرځوي

عقله پهٔ زړهٔ دا کیسه ومنه نو
لهٔ هغهٔ لوري بهٔ یې نور ګرځوي

همیمه یاره د عشق زر سترګي دي
اوس کومه سترګه له کوم لور ګرځوي

محمدالله همیم

د ښاغلي محمدالله همیم د ژباړې کومه بېلګه چې چاپ شوې هم ده، د «چه ګوارا ژوند، فکر، مبارزه» ترسرلیک لاندې یو کتاب دی. محمدالله همیم یو ملګري د ده د یاد کتاب په باب داسې لیکلي دي:

«محمدالله همیم د چه ګوارا ژوند، فکر، مبارزه په نوم ژباړه او راټولونه کړې، زه یې پر دې عمر حوارۍ ته درناوی کوم او په راټلونکي کې ورته د نورو بریاوو هیله کوم.
رښتیا هم چه ګوارا یو داسې نړیوال مبارز شخصیت و، چې د ټولې نړۍ لپاره د مبارزې الګو ګرځېدلی دی.
د درېمې نړۍ او تر استبداد لاندې هېوادونو ټولو ځوانانو ته په کار ده، چې د ظلم پر وړاندې مبارزې لپاره د چه ګوارا شخصیت، فکر او مبارزه مطالعه او هضم کړي.
د نومورې کتاب چاپ چارې روانې دي، کله هم چې چاپ شو له ملګرو او ځوانانو څخه مې هیله ده، چې د انساني مبارزې لپاره دا کتاب مطالعه کړي.
ملګري همیم ته مبارکي او لا بریاوې.
#انصاري»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه ښاغلي محمدالله همیم ته د ده د ټولو فرهنگي بریاوو په پار مبارکي وړاندې کوم او هیله څرگندوم چې دی خپلو همداسي فرهنگي کارونه نورهم پسي غځوي څو وتوانېږي چې خپلو خلکو، وطن او ژبې ته نور خدمتونه هم وکړي.

د دې مقالې په پای کې به د «بوډۍ ټال» له ټولگې نه څو لنډۍ د بېلگې په ډول راواخلم:

جینۍ خبره یې که نه یې
یار دې ملگري لټوي لهٔ ملکه ځینه

مزری نه یم چې لمبه شم
دا خدای راکړې غوښې ورو ورو تویومه

د اوسنو پیغلو ولوره
زموږ لهٔ چمه وورکې تا ورک کړې دینه

ښېرې بهٔ ولې درته نه کړم
توره ټوپکه ورانوې ودان کورونه

سبا نه بله ورځ اختر دی
خلک جامې گندي زهٔ روغ گرېوان څیرمه

د پښتنو بده رواجه
یار چې ولور گټي نو زهٔ بهٔ زره یمه

ورکه نیستي شه ورک یې نوم شه
سوري غوړونه بې لښتیو گرځومه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ